**مطبوعاتي اعلاميه**

# حزب التحرير ـ ولايه سوډان يو عمومي کنفرانس ونيو!




(ژباړه)

د ۱۴۴۰هـ.ق کال د جمادي اول ۱۰مه او د ۲۰۱۹ م کال د فبرورۍ ۱۵مه د حزب التحرير ـ ولايه سوډان په خرطوم ښار کې يوه ټولييزه غونډه ونيوله، کومه چې ټاکل شوې وه د ۲۰۱۹ ميلادي کال د فبرورۍ پر ۱۶مه په اش ـ شاهيد زوبير کې ونيول شي. د محمدصالح نړيوال کنفرانس مرکز دغه غونډه د سيکولريزم او اسلامي شريعت تر منځ د سوډان راتلونکی ونوماوه، خو د خرطوم امنيتي چارواکو د دغه کار مخه ونيوله. دغه غونډه د يو شمېر علماوو، اسلامي چارو پوهانو او د مسجد ملا امامانو له لوري نيول شوې وه. په ياده غونډه کې لاندې کسانو ګډون کړی وو:

- د سپڅلي قران پوهنتون څېړونکي او پروفيسور ډاکتر محمد موسی البر.
- د بياکتنې غونډې رييس او د بدلون لپاره د وړاندوينې اداري غړي ډاکتر حسان اسسماني ابودجانه.
- د اجرايه قوې اداري غړي او په کتاب او سنتو باندې په ال ايتيسمان جما کې د دعوت برخې مشر شيخ اتاج عبدالمطليب.
- د اسلامي وروروليۍ کتنې عمومي استازي ښاغلي حسان عبدالحميد.
- د شيخ ابراهيم له لوري د سوفيه طريقې له مشرانو څخه ډاکتر محمد يوسف ال اراکي.
- د محکمې رييس ډاکتر عبدالعزيز نايم.
- په الکالکا منورا کې د حزب التحرير غړي او د رحمان مسجد ملا امام ډاکتر عبدالرحمان.
- د حزب التحرير غړي انجينير اکرام سعد.
- د سوډان د ليکوالو او څېړونکو د ټولنې غړي او څېړونکي ډاکتر عبدالله ابو امام.
- د حزب التحرير ـ ولايه سوډان د شورا غړي ښاغلي عبدالله ابو الرحمان.

د يادې غونډې وياندويانو پر دې هوکړه وکړه چې اسلامي قانون د اسلامي خلافت تر چتر لاندې بشپړ پلی کېږي. د حزب التحرير ـ ولايه سوډان رسمي وياند د غونډې پرانيستنه وکړه او ټينګار يې وکړ چې امت کمزوری شوی نه دی او يوازې له دې امله سپک شوی نه دی چې د الله سبحانه وتعالی کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت يې پريښې دي، بلکې دا د سيکولر سيستم د پلي کولو او د ظلم پايله ده. د حزب التحرير ـ ولايه سوډان وياند څرګنده کړه چې څرنګه اسلام يوازنی نظام دی چې ښايسته ژوند پرې تر لاسه کېږي او درناوی، پانګه او وينه مو خوندي کوي. د خبرو په وروستيو کې نوموړي پر پوهانو، مشرانو او د مسجد پر ملا امامانو غږ وکړ چې نور د تم پاتې کېدو لپاره وخت نشته، يو د بل تر څنګ ودرېږئ او د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت راتګ لپاره داسې کار وکړئ چې په درجه کې لومړيتوب تر لاسه کړئ او د رسوالله صلی الله عليه وسلم بيرغ پورته کړئ. غونډې ته ټولو راغلو کسانو د تکبير په ويلو سره د نبوت پر تګلاره د اسلام تر چتر لاندې د راشده خلافت بيا راتګ غوښتنه وکړه.

**ابراهيم عثمان ابو خليل**

**د حزب التحرير ـ ولايه سوډان رسمي وياند**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۳۳**

**۱۴۴۰هـ.ق د جمادي اول ۱۱مه**

**۲۰۱۹ م د فبرورۍ ۱۶مه**